

# اجرايي خلاصه: له خارجي پراختيايي مرستو تر خارجي مستقيمي پانګې اچونې؟

"تیره ورځ ما غوښتل چې په نړۍ کې بدلون راولم، ځکه زه زړه ور وم. نن ورځ زه عاقل یم نو غواړم چې په خپل ځان کې بدلون راولم". رومي

## هدفونه او پس منظر

دا راپور په افغانستان د ځانګړو اقتصادي زونونو اقتصادي وضعيت د هېواد په اوو برخو (کابل، بلخ، ننګرهار، پکتيا، کندز، کندهار او هرات) کې تر څېړنې لاندې نيسي تر څو د افغانستان حکومت (سوداګرۍ او صنايعو وزارت) او د هغه شريکان وکولای شي چې د قوي اقتصاد او د کار د رامنځته کولو طرحې ته پراختيا ورکړي.

په هېواد کې د ځانګړو اقتصادي زونونه لپاره جغرافيايي ساحې( معمولاً ښارونه) دي چې د تجارت لپاره پر زيربناوو تمرکز کوي او د چمتو کوونکو، توزيع کوونکو او د توليدي کمپنيو د محصولاتو د بازارونو لپاره مرکز جوړوي. دا زونونه معمولاً د آزادو تجارتي قوانينو او قواعدو درلودونکي وي او د هېواد په کچه ټيټې تعرفې ورکوي ترڅو محلي او نړيوال پانګوال ځانته را جذب کړي. دا ډول زونونه په چين، هندوستان او سنګاپور کې هم شته چې تر ډېره بريده په خپلو موخو کې کامياب بلل شوي دي.

د نړيوالې جامعې د وتلو سره، د افغان اقتصاد د GDP له ټيټې ودې، د بيکارۍ له لوړې کچې، سياسي ناټيکاوۍ او د تقاضا د مهمو منابعو د بايللو سره مخ شو. افغانستان د ضعيفو زيربناوو څخه په خاصه توګه د ترانسپورت او د برق په برخه کې کړيږي. دا د تجارت د جامعې سره تړلې خدمتونه دي چې د محصولاتو د توليد عامل او د محصولاتو د بازار موندنې شبکه هم بلل کيږي.

په خاصه توګه، ناکافي برق ډېر ځلی د ودې يو جدي خنډ بلل شوی دی. صنايعو ته په پام سره، ځانګړي زونونه به د برق د چمتو کولو ستونزه د موقعيت په نظر کې نيولو سره تر يوه بريده حل کړي. همدارنګه، افغاني محصولات نشي کولای چې د کارګر د لوړ مزد او ټيټ توليدي معيار له امله پر نړيوالو بازارونو کې او هم د منطقې په کچه رقابت وکړي. ځانګړي اقتصادي زونونه به وکولای شي چې د توليد په لګښت کې کموالی راولي او معيارونو ته وده ورکړي ترڅو افغاني محصولات د نړۍ په کچه ښه رقابت وکړای شي. په افغانستان کې د ځانګړو زونونو رامنځته کول به د پانګوالو لپاره يو اشاره وي چې هېواد د خصوصي سکتور د پرمختګ ملاتړ ته متعهد دی، او دا به د لندن د کنفرانس (دسيمبر ۲۰۱۴) د پايلو وروسته، ددې سبب شي چې په لوړه کچه بهرنۍ پانګونه ځانته را جلب کړي.

## مهمې لاسته راوړنې

د سروې د ځواب ورکوونکو د ځوابونو پر بنسټ يو لست بحراني پوښتنو ته جوړ شوی وو چې درې مهمې کټګورۍ لري: د تجارت چاپيريال، زيربنا او د تجارت لګښت. دا لست ددې په موخه ترتيب شو ترڅو د ځواب ورکوونکو د نظرياتو يو ساده اوسط په لاندې دريو شاخصونو کې ولرو:

- د تجارت چاپيريال: امنيت، د ماليې اداره، د کار او تجارت قواعد، د تجارت ثبتول، د تجارت پيل او ملي معيارونه
- زيربنا: برق، ځمکه او د ځمکې قباله، د اوبو او بدرفت سيستمونه، دځای (موقعيت) امنيت، د ساحې د ننه او بهير پاخه سرکونه، د ځای مديريت.
- لګښت: د کارګر لګښت، د عملياتو لګښتونه، د وارد شويو توکو او خدمتونو لګښت.

پدې شننه کې مزار شريف، کابل او هرات د ځانګړو اقتصادي زونونو د پرمختيا لپاره ښه وبلل شول او لوړې نومرې يې ترلاسه کړې او ورپسې ننګرهار، کندز، پکتيا او کندهار وو چې ټيټې نومرې يې ترلاسه کړلې.

دا په داسې حال کې وو چې کندز او ګردیز په کمې شاخصونو کې ښې نومرې واخیستې، د منطقي په معلوماتو کې باید د منطقي خطرناکه امنیتي اوضاع او د صنعتي پرمختګ نشتوالی په نظر کې ونیول شي.  دا ډول خنډونه پدې ساحو کې د تجارت په پرمختګ کې ډیر مهم دي او دا ددې سبب ګرځي چې دا موقعیتونه د ځانګړو اقتصادي زونونو لپاره نامناسب و ګرځوي. په مجموع کې د موقعیت په پرتله کولو کې باید د تخنیکي اوصافو ترڅنګ باید د شرایطو ملاحظات هم په پام کې ونیول شي.

د افغانستان حکومت د ځانګړو اقتصادي زونونو د خپلولو او تنظیم لپاره کافي بودجه په لاس کې نلري. دا په داسې حال کې ده چې په افغانستان کې د یوه بشپړ خصوصي ځانګړې اقتصادي زون کامیابي ناشوني کار ده. د زیربنا اړتیاوې ډیرې لوړې دي او خصوصي سکتور نشي کولای چې هغه پوره کړي. دیرش کاله سوشیالیزم دولت ته د تجارتي خدمتونو د چمتو کولو توقع په ځای پریښوده. سربیره پر دې، د خارجیانو په هکله د بې باورې ذهنیت شتون لري. پدې مورد کې باید لاندې سپارښتنو ته اولویت ورکړل شي.

- په افغانستان کې د ځانګړو اقتصادي زونونو د جوړښت لپاره د عامه او خصوصي سکتورونو شراکت به یو مطمئن او پایداره انتخاب دي، چې پدې کې به شاروالیانې، دولتي ادارې او شخصي شرکتونه شامل وي. دا به د نړیوالو ډونرانو یا خصوصي شرکاوو څخه د ابتدایي پانګه اچونې لپاره فنډ ترلاسه کوي.
- د عامه او خصوصي سکتورونو شراکت به د دارایي د شریکولو ترتیبات  هم ولري، پدې کې به شرکتونو ته د اوږد مهال د ګروي زمینه برابره شي او که چیرته یې عملکرد د قناعت وړ وو نو کیدای شي چې د اخیستلو انتخاب هم ولري.
- پدې توګه، د عامه او خصوصي سکتورونو د شراکت جوړښت باید قانوني مراحل طې کړي تر څو د دولت او خصوصي سکتور مسؤولیتونه پکې په ښکاره توګه معلوم شي. همدارنګه د ناکامۍ یا پاتې راتلو معیارونه هم باید وټاکل شي ترڅو د نظارت او ارزونې لپاره چارچوب جوړ شي.

ځانګړي اقتصادي زونونه اکثراً په مشخصو سکتورونو باندې توجه کوي.  موضوعي ارزونه دا بیانوي چې ځواب ویوونکو د ځانګړي اقتصادي زون لپاره په ټولو دریو غوره شویو ظرفیتي موقعیتونو کې، د ساختماني او  استخراجي صنایعو ظرفیت د پراختیا لپاره ډیر لوړ ښودلی دی.  خو سره لدې د افغان اقتصاد ملي اولویتونو او د افغاني محصولاتو موجوده رقابت د منطقي په کچه (د پاکستاني محصولاتو په پرتله)  په نظر کې نیولو سره،  یو کس کیدای شی ووایې چې ځانګړي اقتصادي زونونه باید د کرنې په تجارت تمرکز وکړي او د اقتصادي ارزښت ترټولو ګټورې برخې (بسته بندي او بازار موندنه) پکې شاملې کړي. داسې چې:

- د نړیوال بانک په اټکل او د ورځ تر بلې په خرابیدو چاپیریال ته په کتو سره، داسې ښکارې چې زراعت به په افغانستان کې د کارونو د رامنځته کولو د یو مهم عنصر په شکل پاتې شي.
- د افغانستان د رزاعت سکتور  تراوسه د تولید او رقابت په برخه کې ناخوالې لري او کرنیز  اقتصادي ځنځیر ډیرې برخې په لویه پیمانه بهبود ته اړتیا لري.
- د افغان اقتصاد نور سنتي سکتورونه (ساختماني، خدماتي، ترانسپورتي) د بهرنیو مرستو د کمښت له امله ډیر متضرر شوي دي.
- استخراجي صنایع د هېواد د اقتصاد په بهبود کې کافي ظرفیت لري خو لا تراوسه د دوی واقعي وده د حقوقي موانعو سره مخ ده. په یوه ځانګړي اقتصادي زون کې د استخراجي صنایعو یوځای والی باید د هرې اقتصادي ستراتیژي په الویت کې وي.

## د ذیدخلو لورو لپاره سپارښتنې

دا سپارښتني د هغو نمایندګیو په اساس ویشل شوي کومې چې د تغییر د راوستلو مسؤلیت او ظرفیت لري. د ځانګړو اقتصادي زونونو د پوره ودې طرحه او مسؤلیت باید په طبیعي ډول د افغانستان د دولت (په ځانګړي ډول د سوداګرۍ او صنایعو د وزارت ) له لوري ترسره شي.

دولت: د اقتصادي زون په پروګرام کې چې هرڅومره دولت کمه مداخله وکړي هغومره د خصوصي سکتور په ګټه تماميږي. خو دا باید په یاد ولرو چې د افغانستان د دولت د تنظمونکي رول څخه څوک سترګې نشي پټولای. او په خاص ډول دا په پیچلو ملي او منطقوي شرایطو کې صدق کوي:

1. د عمومي اقتصاد لپاره د یو جامع تنظمونکی چارچوب جوړول: څومره وخت چې ددې قانون جوړښت نیسي، مستقیماً د دولت او دخصوصي کمپنیو د تاوان سره متناسب دی.
2. تر یوې پراخې اقتصادي پالیسۍ لاندې د ځانګړي اقتصادي زون لپاره د قانون جوړول چې ځانګړي پراختیایې اجندا او د معین وخت لاندې د ناکامۍ معیاورنه ولري. د ۲۰۱۵ کال د مې د میاشتې په ۲۶ مه نېټه یو ورکشاپ د سوادګرۍ او صنایعو په وزارت کې جوړ شوي وو چې په هغه کې لوړ پورې دولتي چارواکو، نړیوال فعالینو، او د خصوصي سکتور نمایندګانو ګډون درلود، د لاندې پلان سپارښته یې وکړه:
    - نقشه کشي او اولیت بندي: د ځانګړو اقتصادي زونونو د پراختیا موجوده کاري ګروپ چې د سوداګرۍ او صنایعو د وزارت تر چتر لاندې کار کوي، باید ددې راپور لاسته راوړني او سپارښتنې په پام کې ونیسي او د اړوندو شرکاوو (د افغانستان د سوداګرۍ او صنایعو اتاق، حرکت، خصوصي سکتور، نړیوال بانک او نور ملي او نړیوال فعلانو) سره وګوري ترڅو جمهور رییس ته یوه ښه طرح وړاندې کړي.
    - ازمایښتي طرحه جوړول او د هغو پلې کول: دوه ازمایښتي پروژې به جوړې شي ترڅو د ځانګړو اقتصادي زونونو ظرفیت او اړوند توب په افغانستان کې د شرح شویو اقتصادي ممکنه مطالعاتو پر بنسټ و ازمایل شي.
    - نظارت او زده کړه: د نورو پروګرامونو په څیر ځانګړي اقتصادي زونونه هم د کامیابۍ او ناکامۍ نقطې لري چې اکثراً کیدای شي اندازه ګیري شي. د وخت په نظر کې نیولو سره د ناکامو معیارونو تعریف کولای شي چې د زونونو د منظم نظارت او د پالیسې په بیا کتنه کې مرسته وکړي.
3. د ګاونډیو هېوادونو او هغو هېوادونو سره د بحثونو شروع چې مونږه ورسره تجارتي هوکړه لیکونه لرو ترڅو د ځانګړو اقتصادي زونونو لپاره فرصتونه او قوانین مشخص شي: هغه اقتصادي زونونه چې ازاد تجارتي نظامونه لري اکثراً په نورو هېوادو کې پر تجارت ناوړه اغیزې لري چې حتی کیدای چې ډول پې بدل شي: تجارتي شریکانو ته باید خبر وکړل شي څکه د دوی د وړاندوینو نه به ټول تشویشونه روښانه او د تجارت انډول به برقرار وساتل شي.
4. د خصوصي سکتور د پراختیا تشویق او ملاتړ د کوچنیو او منځنیو تشبثاتو او لومړنیو صنایعو په برخه کې: دولت باید په هر ډول شرایطو کې د شخصي تجارتونو ملاتړ ته دوام ورکړي. اقتصادي پراخ اصلاحاتو ته باید ادامه ورکړل شي ترڅو د عرضې لپاره عامل پیدا شي او د منځنې تولید لپاره یو قاعده جوړه شي چې دا به د اقتصادي زونونو په تولیدي ظرفیت کې مرسته وکړي.
5. د ایران، پاکستان، تاجکستان او نورو منطقوي شرکاوو سره د توانمندو ګډو اقتصادي زونونو په موخه د بحثونو ګرم ساتل: شریک ازښتونه لکه ژبه، مذهب او کلتور به وکولای شي چې د دوو ملتونو ترمنځ رابطه قوي کړي او سیاسي ثبات او تجارتي اړیکو ته به بهبود ورکړي.

مرسته ورکوونکي (دونران): په پیل کې باید اطمینان ترلاسه شي چې د زون پروګرام د دونرانو د اساسي درخواستونو سره سم ده. دا باید په یاد کې وساتو چې دونران کولای شي چې:

1. د متخصیصینو سره مشورې، د زون د میزبانۍ اداره کول، او د نورو ذیدخلو غاړو سره د اسانتیا برابرول چې ښایې د زون په برنامه ریزۍ کې ګډون وکړي. دونران باید د خپلو شبکو لا لارې د افغانستان د زون د پراختیا د پروګرام لپاره مشاورینو سره د مشورې اسانتیا برابره کړي. دوی د خپلو ارتباطي شبکو په وسیله کولای شي چې د نورو هېوادنو د اقتصادي زون د تنظیمونکي نهادونو د متخصیصینو، پالیسي جوړونکو، مشاورینو سره اړیکه ونیسي او د خصوصي زون پراختیا ورکوونکي ټول تر یوه چت لاندې یوځای راټول کړي او د افغانستان د زون د پرمختګ په پروګرام باندې خبرې اترې وکړي.
2. د نورو هېوادونو د باظرفیته پانګوالو سره د شبکو ایجاد: بهرني دونران د اقتصادي زونونو لپاره کولای شي چې د باظرفیته پانګوالو سره د یوه پلان شوي زون تر پروګرام لاندې اړیکې ټینګې کړي. د باظرفیته پانګوالو د ضروریاتو تر عنوان لاندې د ورکشاپونو او کنفرانسونو تنظیمول به د ځانګړي اقتصادي زون ستراتیژۍ داسې برابره کړي چې پانګوالو ته به له پیل نه اسانتیا را منځته کړي. دا کار کولای شي چې په هېواد کې د مستقیمې او غیر مستقیمې بهرنۍ پانګونې د علاقمندۍ اټکل هم څرګند کړي.
3. د امکان سنجي د پراخو مطالعاتو اسانتیا د اقتصادي زونونو د جوړولو په موخه په هغو موقعیتونو کې کوم چې په څېړنه کې ذکر شوي: دا څېړنه د کامیاب زون پروګرام له ۷ سروي شویو موقعیتونو نه دریو (کابل، هرات، او مزار شریف) ته راکموي او د ډېر تمایل په صورت کې د امکان سنجي دا څېړنه کیدای شي جلال آباد هم ور شامل کړي. پدې څېړنه کې باید لاندې موضوګانې شاملې وي:
   a) یوه پراخه مشورتي پروسه چې مهمې دخیلې غاړې به وکولای شي چې د فند اپرچونیتي کاسټ معلوم کړي.
   b) د نقشې پر مخ د ارزښت د ځنځیر او د عرضې د ځنځیر ارزونه ترڅو په نقشه کې ددې ځنځیرونو اړیکه د مهمو موقعیتونو لکه د صنعتي پارکونو او نورو سوداګریزو مرکزونو سره روښانه شي.
   c) په هره منطقه کې د مارکیټ یو مهم ظرفیتي تحلیل د اقتصادي زون لپاره

حرکت: د حرکت رول داده چې د افغانستان دولت ته څېړنې، معلومات او عملي وړاندېزونه چمتو کوي. د تحیقاتي څېړنو له جملې څخه درې نور بیل پروګرامونه دي چې حرکت به په هغو کار کوي ترڅو په افغانستان کې د ځانګړي اقتصادي زونونو کار مخ پر وړاندې ولاړ شي.

1. مشورتي پروګرام: د اقتصادي زونونو د ودې لپاره د څېړنې په لاسته راوړنو باندې ورکشاپ جوړول: لومړنی کار به داوي چې ملي ذیدخله غاړې به د ځانګړي اقتصادي زون غونډې ته راوستل کیږي چې د څېړنې په لاسته راوړنو باندې به خبرې اترې وکړي او په مختلفو موضوعاتو کې خپل نظر ورکړي ترڅو د زون یوه معقوله پالیسي د افغانستان لپاره جوړه کړي.
2. د قانون جوړونې پروګرام: په افغانستان کې د یو پراخ تنظیمونکي او بنیادي چارچوب جوړول: د مشورتي پروګرام په ترڅ کې باید همزمان قانون لیکل هم پیل شي او دابه د شرکاوو د رضایت وروسته ډېر ژر پارلمان ته د تصویب لپاره واستول شي. د قانون لیکلو بهیر به ټولې پولي (مالي) او عملیاتي انګیزې چې کولای شي په زونونو کې پانګوال ځانته را جلب کړي، په نظر کې ونیسي. همدا راز، پدې کې به بنیادي تشکیل د زونونو د تنظیم او ساتنې په موخه تخصیص شي.
3. د زیربنا پروګرام: د کافي زیربنا د جوړښت لپاره د ملاتړ چټکه طریقه: ښایې دا د ټولو نه مهم پروګرام وي کوم چې تر ټولو ډېر وخت او کافي فند ته اړتیا لري. اوسمهال تر ټول بحراني نیمګړتیا د زیربنا نشتون ده چې هېواد کې د تولیدي پانګونې په مخ کې لوی خنډ ګرځیدلی ده.

## راتلونکي څه شي دي؟

په پای کې دا د یادولو وړ خبره ده چې په افغانستان کې د ځانګړو اقتصادي زونونو د جوړولو او پراختیا ظرفیت یو واقعي ظرفیت ده.

موقعیت: له دولت نه بیا تر ډونرانو پورې او له حرکت نه بیا تر خصوصي سکتور پورې ټولې ښکلې غاړې باید په ډیره چټکی سره په یوه عملي پلان باندې خبرې اترې پیل کړي ترڅو لومړني ځانګړي اقتصادي زونونه په کابل، مزارشریف یا هرات کې په کار پیل وکړي. شرایط، سکتورونه او ستراتیژي کیدای شي مختلف وي مګر کله چې یو عملي سیاسي ثبات منځ ته راشي نو ټول اړین اقتصادي تغییرات به سم شي او بلاخره ځانګړي اقتصادي زونونه به په افغانستان کې خپل هدف ته ورسیږي.

د سکتورونو اولیت بندي: دا راپور په واضیح ډول ددې سپارښتنه کوي چې سکتورونو ته باید د لاندې ټکو په پام کې نیولو سره پاملرنه وشي. ۱) د کرنیز تجارت په مخ کې بې ثباته امنیتي وضعیت ، ۲) د کانونو د سکتور د پراختیا لپاره د اجنډا نشتون او د ظرفیت ناڅرګندوالی. همداراز، پدې راپور کې راغلي چې د هېواد د وګړو ظرفیت د توکو د تولید، د اوبدلو، ساختماني چارو، ترانسپورت او خدماتو په برخه کې د پام وړ دی. مګر اوسنیو شرایطو ته په پام، کیدای شي چې کارګرو ته د کار پیداکولو او د چټک عاید طرحې ته اولیت ورکړل شي او همداراز د زراعت په سکتور باندې کار وشي ځکه چې د زراعت سکتور د افغان اقتصادي نظام یو امید ښونکی او سنتي سکتور دی.

نن او سبا د ځانګړو اقتصادي زونونو ونډه: د لږ موثره او ضعیفه تولیدي کرنیز سکتور بدلول په یوه فعاله او پایداره کرنیز تجارت باندې، د افغان او نورو نړیوالو پانګوالو سترو پانګونو ته اړتیا لري ترڅو د تجارت د ارزښت د ځنځیر یوه ګټوره برخه جوړه کړي. د بادامو او رومي بانجانو تولید او په لویه پیمانه د هغو استول ګاونډیو هېوادونو ته د ارزښت د ځنځیر یوه برخه تشکیلوي او د هغو (ترانسپورټ، بسته بندي، بازار موندنه، خرڅلاو او داسې نور) د ارزښت د ځنځیر بله برخه جوړوي. ځانګړي اقتصادي زونونه کولای شي چې: ۱) د غوره زیربناوو، ۲) د تجارتي چاپیریال په رامنځته کولو کې (د ځمکې استعمال، د شخصي ملکیت حقوق، ۳) د انعطاف وړ تنظیمي او مالي اقداماتو، ۴) ماهر او نیمه ماهر کارګرو په ګټه اخیستو سره، دې موخې ته په ښه شکل ځان ورسوي.

نور فرصتونه: سره لدې چې ځینې سیمې لکه کندهار او ځینې سکتورونو لکه استخراجي صنایع چې نسبتاً یې کمې نمرې ترلاسه کړي، خو بیا هم د لاس ناخوړل شویو ځایونو ظرفیت یې امید ښونکی او د پاملرنې وړ دی: د مثال په ډول: د کندهار نړیوال هوایي ډګر کیدای شي په مرکزي اسیا کې د دوبي استانبول او دوبي په منځ کې په یوه مهم سوداګریز ځای بدل شي. همداډول، استخراجي صنایع په اوږد مهال کې د افغانستان لپاره د یوه روښانه اجتماعي اقتصاد د ودې موکه جوړوي.

په پای کې، لکه څرنګه چې مخکې دولت ته په سپارښتنو کې ذکر شول، دا راپور د منطقې په کچه شرکاوو (پاکستان، ایران، تاجکستان) سره د عملي خبرو اترو ملاتړ کوي ترڅو ګډ ځانګړي اقتصادي زونونه پرانیستل شي.

طرح: دغو ټول دلیلونو ته په کتو، دا راپور په دې باور دی چې د نورو سیاسي، اقتصادي او تنظیمونکو اسبابو په نظر کې نیولو سره باید ځانګړي اقتصادي زونونه ته ارجیحیت ورکړل شي ترڅو د اقتصادي تړاو والی نه ناپیلیتوب ( له خارجي پراختیایي مرستې نه خارجي مستقیمې پانګې اچونې) ته لاره پیدا کړي.